# د يوې شپې ناوې



ليکوال: ډاکټر معمار حشمت ا[illegible]ر
ښځليک: لړم / کال ۱۴۰۷ لیږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لیکي پوهه:

**سرلیک: د یوې شپې ناوې**

**لیکوال:** داکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پښتنې ډیزان:** داکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر: ۲۰**
**چاپ نېټه: لړم** / کال ۱۴۰۷
**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸+
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لړليک

**سرليک** **چوپړی**

پخښنتیٔ.......................................................... ١
بسم الله الرحمن الرحيم ........................................... ٢
ليکي پوهه:.......................................................... ٣
لړليک ............................................................. ٤
تراڼ (پيل، شروع، بريد)........................................... ٥
د يادښتونو له پاره:................................................ ٧
ماريوپول:.......................................................... ٨
جګړه : ............................................................ ١٣
د جګړې تعريف:.................................................... ١٣
داستان: ............................................................ ١٨
د چاپ شويو کتابونو ليست......................................... ٤٦
د کار لاندې کتابونو ليست ........................................ ٥١
د وخت او امکان په صورت کې...................................... ٥٢
د پخښنتیٔ څټ ..................................................... ٥٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د یوې شپې ناوې**

**....................**

## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، اَلْحَمْدُ لِلّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّی اللّهُ عَلَی مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.

هغه د ذات یو هه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی.

عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یوه بل ناول چې کیسه یې په اوکراین ماریوپول ښارکې کې پیل شوې، یوه اړخیزه تر اوسه هم دام لرۍ ولیکم او د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره یې ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، او نه باید اوسي، نوځکه غواړم  ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
**د یوې شپې ناوې**

**....................**

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې پېژنو.

زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره شريکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په درنښت

ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library
**د یوې شپې ناوې**

**....................**

## د یادښتونو له پاره:

۱- ..................................................................

۲- ..................................................................

۳- ..................................................................

۴- ..................................................................

۵- ..................................................................

۶- .................................................................

۷- ..................................................................

۸- ..................................................................

۹- .................................................................

۱۰- ................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ماريوپول:**

په روسي ژبې کې (Мариуполь) يوه بندري ښار دی چې د اوکراين په سويل ختيځ کې د ازوف سمندر په څنډه کې شتون (موقعيت) لري.

دا ښار د ازوف سمندر په شمالي ساحل کې د پريازويا په سيمې کې د کلميوس سيند په خوله کې شتون لري.

د هېواد د ويش له مخې، ماريوپول د دونيتسک په ولايت کې موقعيت لري او د دې ولايت دوهيم لوی ښار ګڼل کيږي.

دا ښار په ۲۰۲۱ ميلادي کال کې د روسيې د پوځ له خوا ونيول شو.

د شپاړسمې پيړۍ له پيل راهيسې، ماريوپول د کلميوس کلی په نامه پيژندل کېده، چې د کوساک ځواکونو يوه لويه کلا وه، مګر دا د ۱۷۷۸-۱۷۸۰ کلونو کې د کريميا يونانيانو له مهاجرت وروسته دا ځای، په ښار بدل شو.

په تېرو وختونو کې، د کمونيستي دورې په جريان کې، ماريوپول د اندری ژدانوف په وياړ د ژدانوف ښار بلل کېده.

نن ورځ ماريوپول يو لوی صنعتي مرکز او همدارنګه يو علمي او سوداګريز مرکز ګڼل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماريوپول د اوکراين په صنعتي کولو کې کليدي رول ولوباوه او د غلو په سوداګرۍ، فلزاتو، او درنو انجينرۍ کې مهم و، په شمول د ايليچ او ازوف ستال اوسپنې فابريکه.

لومړنی ماريوپول سپورت هال په ۱۸۷۶ ميلادي کې تاسيس شو.

د ۱۲ پېړۍ څخه تر ۱٦ پېړۍ پورې، ماريوپول د يوې لويې سيمې برخه وه چې په لويه کچه د کريميا تاتارانو، نوګات پوځ او د ليتوانيا لوی دوچيانو او سياه او ازوف ترمنځ د سختو جګړو له امله ويجاړ شو او د کريميا خانيت او د عثماني امپراتورۍ د سيمو برخه شوه.

د دنيپر سيند په ختيځ کې يوه ويجاړ ميدان و چې د ازوف سمندر ته غځول شوی و.
دلته د اوبو کمښت د لومړنيو استوګن ځايونو جوړول ستونزمن کړل.

د موراويا لارې ته نږدې د شتون له امله، د کريميا او نوګت قومونو ډيری وختونه د غلامۍ له پاره په دې سيمه کې بريدونه کول، او تاتارانو هم د سيمې خلک لوټ کړل، چې د دې سيمې د دايمي آبادۍ مخه يې ونيوله او لږ نفوس يې و ساتل.

د ماريوپول سيمه په هغه وخت کې د تاتارانو تر واکمنۍ لاندې يوه نـاامنه ځمکه وه، نو له همدې امله دا د ځنګلي ميدانونو يا صحرايي ميدانونو (په لاتيني کمپي صحرايي کې) په نوم پيژندل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د يوې شپې ناوې**

**....................**

د يوريشيا د پښو په دې سيمه کې، Cossacks د ۱۵ پېړۍ په وروستيو او ۱٦ پيړيو کې د جلا خلکو په توګه راڅرګند شول.

د نيپر د ريپډز لاندې، زاپوروزيان کوساکس (Cossacks) وو، چې ژوند يې څرڅای او کوچيان وو.

تل د کب نيولو، ښکار کولو او همدا رنګه د کرنې او څارويو له پاره ستيپ ته ننوتل.

دا Cossacks د دولتي ځواک او لويو ځمکو مالکينو څخه خپلواک وو، دوی يوه لوی شمير بزګران او خدمتګاران جذب کړل چې د پولنډ - ليتوانيا دولت مشترک او د مسکو دچې څخه وتښتېدل.

د سيمې انزوا په ۱۷۰۰ کې د قسطنطنيه د ترون له خوا نوره هم پراخه شوه، کوم چې د ازوف سمندر په سواحلو کې بايد د ميوز سيند تر خولې پورې هيڅ ډول ميشت ځايونه يا کلا ګانې (قلعې) نه وي.

په ۱۷۰۹ کې، د روسيې په وړاندې د سويډن سره د کوساکس اتحاد په ځواب کې، د روسيې زار، پيټر I د سيچ په نوم د مرکزي سيمې ويجاړولو او د سيمې څخه د خلکو د بېرته راستنيدو امر وکړ.

په ۱۷۳۳ کې، روسيه د عثماني امپراتورۍ په وړاندې د نوي کمپاين له پاره چمتووالی نيولی و او په دې توګه يې د زپوروزيانو بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library


راستنېدو ته اجازه ورکړه، که څه هم ځمکه په رسمي توګه د عثمانیانو ملکیت وه.

په ۱۷۳٤ کې د لبني د تړون له مخې، زاپوروزیانو خپلې ټولې پخوانۍ ځمکې بېرته ترلاسه کړې.

پرځای یې، دوی مجبور شوو(شول) چې د جګړې په جریان کې د روسیې په اردو کې خدمت وکړي.
دوی ته دا اجازه هم ورکړل شوه چې د سیچ نمبر په نوم د نیپر سیند په څنډه کې د لرګیو یوه نوې کلا جوړه کړي.

له ۱۷۳٦ وروسته، د Zaporozhian Cossacks او Dan Cossacks(چې پلازمینه یې په نووازوفسک کې وه) په سیمه کې جګړه وکړه، او د پایلې په توګه، زارینه الیزابت په ۱۷٤٦ کې یوه فرمان صادر کړ چې د کالمیوس سیند یې د دوو کاساک ډلو ترمنځ سرحد وټاکه.

د تاتار وروستی برید، چې په ۱۷٦۹ کې پیل شو، یوه لویه سیمه یې یوښله، د کلمیوس قلعه یې ویجاړه کړه او د Cossack ژمي کوارټرونه یې وسوځول.

په ۱۷۷۰ کې، د روسیې حکومت د عثمانیانو سره د جګړې پای ته انتظار ونه کړ او د کریمیا خانیت سره یې خپله پوله دوه سوه کیلومتره جنوب لویدیځ ته واړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې عمل د نيپر د قوي كربښې د جوړولو پيل په نښه كړ (د اوسني زپوريزيا ښخه نووو پيټروكا ته غځول)، او په دې توګه د راتلونكې ماريوپول سايټ په ګډون په سيمه كې د روسيې د ادعا له پاره بنسټ كېښنود.(١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**جګړه :**

هره جګړه ځانه ته اهداف لري.

**د جګړې تعریف:**

جګړه عبارت ده د دوو او یا یوه ډله هېوادونو د قواوو د یوې او یا ټولې برخې له ټکر څخه چې په ذریعه یې بشکېل لوري خپلې موخې د زور او قواوو له لارې په مقابل لوري تحمیلوي.




**د ماریوپول استوګنې ودانۍ له جګړې نه وروسته**

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ماريوپول استوګنې ودانۍ له جګړې نه د مخه



د ماريوپول استوګنې ودانۍ له جګړې نه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



....................




د ماریوپول سوداګریزې ودانۍ له جګړې نه د مخه




د ماریوپول سوداګریزې ودانۍ له جګړې نه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library


....................



د ماریوپول تیاتر ودانۍ له جګړې نه د مخه



د ماریوپول تیاتر ودانۍ له جګړې نه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



....................




د ماریوپول سوداګریزه ودانۍ له جګړې نه د مخه




د ماریوپول سوداګریزه ودانۍ له جګړې نه د مخه

(۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**داستان:**

والريا نږدې دېرش کاله پخوا د ماريوپول په ښار کې دې نړۍ ته سترګې خلاصې (وغوړوي) کړې.

په کورنۍ کې هغه ښکلې او غټې، غټې سترګې، جګه پوزه (پزه) سپين مخ، نرۍ غاړه او جګ قد درلود.

مور يې هغه د کوشنيوالي نه په وړکتون کې ګډه (شامل) کړه او هره ورځ سهار به يې الته وړه بيا به يې مازيګر نا وخته کله چې د کار څخه بېرته راتله، هغه به يې هم له ځانه سره، کورته راوړه.

هغه ورو، ورو لوېده او په ټولو ګرانېده.

کال تېر شو، هغه په ګرځېدو راغله او د ټولګي يوې خوا نه به يې بلې خوا ته، منډې وهې او د نورو ماشومانو سره به يې لوبې هم کوې.

هغه په خپل وړکتون ټولګي کې مخکې او چالاکه وه، ښې ښې به ژر، ژر به يې خبرې کوې.

د نورو خبرې به يې ژر، ژر يادوې او لکه طوطي به يې زمزمه کوې.

د کوشني والي څخه يې هنر او ادبياتو سره مينه درلوده او په درې کلنۍ کې يې ليکل شوې ترانې له ياده کوې او د ټولګي پر مخ کې به يې لوستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا هغه د خپل وړکتون د ترانو ویلو ډله (ټیم) کې ګډه (شامله) شوه ، هغې به په جشنونو، ملي ورځو لمانځنې کې ګډون کاوه او د نورو ماشومانو سره به یې ترانې ویلې.

هغه نوره هم لویه شوه.

د رسامۍ او شعر ویلو سره یې مینه خورا ډېره شوه.

څه وخت تېر او هغه شپږ کلنه شوه.

کورنۍ یې هغه په لمړني ښوونځی کې ګډه (شامله) کړه.

هغه به سهار وختي له خوبه پاڅېده، بیا به یې سهار چای څښه، د ښوونځي کالي به یې اغوسته، په ناز او نخرو سره به، ښوونځی ته تله.

په ښوونځي کې یې خوررڼې و موندې او د خپل کور نږدې ګاونډیانو سره به ښوونځي ته، تله او د رخصتۍ نه وروسته به، بېرته راتله.

په لارې کې به یې کیسې کوې او کله نا کله به یې شعرونه هم زمزمه کول.

هغې ډېره ښه حافظه درلوده او شعرونه به یې ډېر ژر زده کېدل.

هغې لمړنۍ زده کړې التـه پای ته ورسوې او بیا په لېسې کې ګډه شوه، التـه هم د خپلو پخوانیو ملګرو سره تله او بېرته کورته، راتله.

هغې د ښوونځي مضامینو تر څنګ د شعرونو کتابونه هم ویل او کله نا کله به یې لنډ شعرونه هم لیکل او دا شعرونه به یې د ښوونځي په پرتمینو غونډو او سیالیو کې پر خپل ښکلي غږ ویل او لوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وختونه تېرېدل او هغه لوېده.

خورلڼونو به يې ورته، کوشني شاعره ويل.

هغه به د هغوی په خبرو من، من غوښه اخيسته او د هغوی نه به يې مننه کوه.

څه وخت تېر شو.

له ښوونځي نه فارغه شوه.

بيا يې د کانکور آزموينه ورکړه.

هغه ادبياتو فاکولتې ته کاميابه شوه.

ژمي وه.

اوا (هوا) هم ډېره سړه وه.

خو ژوند سخت نه وه.

په کورنو کې د ګاز شتون، ډېرې ستونزې يې حل کړې وې.

له بلې خوا مرکز ګرمۍ هم شتون درلود او ټولې کوټې، دالانونه، تشنابونه او حمامونه په يوه شان تودېدل.

په برېښنايي موټر او تراموای کې هم بخارۍ شتون درلود.

دوکانونه او مغازې هم تودې وې.

ژمني کالي هم ډېر او ارزانه وو.

ټولو خلکو د هغو د اخيستني توان درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژمنی رخصتۍ پیل شوې.

والریا به د خوبه وخته پاڅېده.

لمړی به یې خپل سهارنی چای څښنه بیا به یې ژمني تاوده کالي اغوستل.

وروسته به یې د سکې (یخمالک) وسایل اخیستل او بیا خوررړونو کورونو ته، تله او خپلې خوررړنې به یې له ځانه سره اخیستې او د سکي ځای ته به تلې.

کله نا کله به یې کورو ته نږدې په فرعي سړکونو کې یخمالک واهه.

هغوی به څو، څو واره پرځمکې غورځېدي خو نه ژوبلېدې.

هغوی به ډېر وړلین او دبل کالي اغوستل او په هغو کالیو کې به ډېر تاوده وه.

په پښو به یې ګرمې موزې کوې، وړینې خولۍ به یې اغوستې او له غاړو به یې د غاړو دسمالونه تاوول.

ځینو به یې تورې چشمې هم په سترګو کوې، تر څو د هغو د سترګو لید ته د واورو وړانګو نه تاوان و نه رسېږي.

هغوی به هره ورځ دې کار یانې تفریح ته مخه کوه.

په یخمالک کې به نه یواځې انجونو ګډون کاوه، بلکه کوشنیانو، الکانو، سړو او ښځو هم د وخت په لرلو سره، په کې ګډون کاوه.

ځیني وختونه به هغوی د سکي وهلو غرونو ته، تلل.

بیا به یې الته سکي او یخمالک خوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تر ناوخته به الته وو، بیا به بېرته راتلل.

والریا به لکه نورو، یخمالک خوړ او کله به ودرېده او د شاو خوا ننداره به یې کوه.

بیا به یې له جبه کوشنۍ کتابچه او قلم راویسته او د هغې پر پاڼو یې لنډ، لنډ شعرونه لیکل.

کوم وخت چې به کور ته ورسېده، لمړی به یې کالي بدلول، بیا به حمام ته، تله مخ او لاس به یې مینځل، کتخ به یې توداوه او ماښام کې به یې د شپې ډوډۍ خوړه.

وروسته د نورو خوړړنو سره د کوره وته او په نږدې پارک کې به یې قدمونه وهل.

کله نا کله به د پارک څراغ لاندې پر څوکۍ کښېناسته او سوچونه به یې وهل.

بیا به یې خپله کوشنۍ کتابچه له جبه و ویسته او خپل شعرونه به یې اصلاح کول.

وختونه تېرېدل او پسرلی نږدې کېده.

هغه خپل ژوند ته ډېره خوشحاله وه.

د خپل راتلونکي (آینده) ژوند په هکله به یې سوچونه کاوه.

د ځینو خلکو په خبره خیال پلو به یې واهه.

بیا به یې د خپل ژوند ملګري په هکله سوچونه کول او ویل به یې چې زما د ژوند ملګری باید ښایسته، جګ قد، زده کړیال(تحصیل

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړی) ځوان، موټر لرونکی، شتمن او له ښې کورنۍ (فامیل) څخه وي.

هغه باید لوړې زده کړې ولري او هم د شعر او شاعرۍ سره مینه ولري.

څه وخت نور هم تېر شو.

هغه ښه شاعره شوه.

بیا یې و غوښتل دنده تر لاسه کړي.

هغې بیا د آزوف مطبوعاتی تیپ کې چې د اوکراین ملي ګارد پورې اړه درلوده د ماموریې په توګې دنده تر لاسه کړه.

څه موده تېره شوه.

هغه د یوه ۳۴ کلن ځوان سره آشنا شوه.

د هغه نوم، آندری سوبوتین و.

آندری سوبوتین د اوکراین اردو افسر و.

هغه به په اخلاص سره دنده تر سره کوه.

هغوی به کله نا کله سره لیدل.

کله به سینما او کله به هم په یوه پارک کې پر څوکۍ کښېناستل او غورې به یې کوې.

د هغوي تر منځ مینه پیدا شوه.

مینه به یې د هرې ورځې په لیدو سره ډېرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هغوی مینه او ناسته پاڅه ورځ تر بلې ډېرېده.

هغوی سره ډېر خواږه ملګري شوو.

بیا به یې، د واده په هکله خبرې کوې.

هغوی هوډ درلود چې سره واده وکړي.

هغوی دا موضوع د خپلو کورنیو او دوستانو سره هم ګډه کړې وه.

هغوی به واده بلونکو لیستونه جوړول او بیا به یې د هوټل پر خرچې خبرې هم کوې.

هغوی غوښتل په ماریوپول ښار کې سره واده وکړي.

آندری سوبوتین به د واده له پاره پیسې غونډوی.

البته د واده مراسمو له پاره ډېرې پیسې نه دي په کار.

د واده مراسم خورا لنډ، ساده او یوازې لږ نږدې خپلوان او دوستان خبروي.

اکثراً د واده مراسم په کورنو کې، تر سره کېږي.

آندری سوبوتین غوښتل چې د واده مراسم په یوه کوشني رستورانت کې، تر سره کړي.

دا د هغوي لمړنی مینه وه.

کومه ور ځ به یې چې سره نه لیدل، بیا به یې په غوږکې (ټیلفون یا موبایل) کې سره، خبرې کوي.

د غوږکي خبرې هم خوږې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسې ښکارېدل چې په پارک کې په یوې څوکۍ کې ناست او سره غوږې کوي.

هغوی به د واده پر پلانونو غږېدل.

کله به یې ویل:

ملګري به ډېر خبر کړو.

ځکه زمونږ لمړنۍ مینه ده.

بیا به په ماشومانو غږېدل.

آندری سوبوتین به ویل:

زه غواړم چې زمونږ لمړی ماشوم یوه ښکلې انجلۍ وي.

والریا به ویل:

نه!

زه غواړم چې زمونږ لمړی ماشوم الک او د ستا په شان تکړه افسر شي.

بیا به یې د ماشومانو په تعداد خبرې کوې.

کله به یې ویل چې دوې ماشومان مو بس دي.

او بیا کله به یې ویل:

درې ښه دې او که څلور شي ډېره به ښه وي.

د خلکو په وینا، غوږي لا غوږ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا به یې د اوسېدو پر ځای خبرې کوې.

هغوی به ویل:

مونږ به په ماریوپول کې ژوند وکړو.

دلته زمونږ دندې دي.

ماریوپول ښکلي ښار دی.

یوه اپارتمان به په کرایه ونیسو.

بیا به، پیسې غونډې کړو.

پیسې چې ډېرې شوې، یوه اپارتمان به په بیه واخلو.

تنخواوې هم بدې نه دي.

د کور خرچې نه پیسې پاتې کیږي.

مونږ دواړه ښې تنخواوې لرو.

ژر به د کور خاوندان هم شو.

مهمه نه ده چې یوه لوی انګړ او ډېرې کوټې ولرو.

دوې خونې والا اپارتمان مو هم بس دی.

یوه کوټه یې زمونږ او بله به یې د ماشومان شي.

دوستان به زمونږ سره کښېني.

د شپې پاتې کېدو رواج خو دلته نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د یوې شپې ناوې**

**.....................**

د شپې ډوډۍ خوړو نه وروسته هر څوک (کس) خپلې مخې پسې ځي.

څوک چا ته مزاحمت نه کوي.

دا دلته ښه رسوم (عنعنات) دي.

د دوستانو سره څوک نه په تکلیف کیږي.

سوچونه (چورتونه) او خیال پلونه ورځ تر بلې ډېرېدل.

په غوږکې کې به په ساعتونو خبرې کوي.

دا خبرې مفته وې.

کله به یې واتس آپ او کله به یې په مسنجر کې خبرې کوې.

وخت په ښه، توګه تېرېده.

کله به یې د یوه غره او کله به یې د بل غره، خبرې کوې.

څه موده لا نه وه تېره شوې چې روسې قواوو پر ماریوپول یرغل وکړ.

په دې یرغل کې د روسې اوایي (هوایی) او ځمکني قواوو برخه اخیستې وه.

په سل هاو الوتکو، ټانکونو، توپونو او پیاده عسکرو په کې برخه درلوده.

هغوی په قوت کې څو برابره تر اوکراینیانو غښتلی او چالاکه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوکرایني عسکرو کوښښ وکړه تر څو د هغوي مخه ونیسي، مګر ونه توانېدل.

اوکرایني عسکر شا تګ ته، اړ شوو.

هغوی ورو، ورو شا ته تلل.

خلک هم د خپلو کورونو پرېښېدو ته اړ شوو.

ملکیان مخکې او نظامیانو ور پسې شا تګ کاوه.

هغوی ورو، ورو د آزوف ستیل کمپنۍ ته ورسېدل کومه چې تر ټولو لویه فلزاتو فابریکه په اوکراین کې وه.

په یادې کمپنی کې ډېرې خوندي ځایونه له ورایه د شوروي اتحاد په وخت کې جوړ شوې وو، کوم چې کېدای شوو د ستونزمنو ورځو له پاره ترې کارواخلي.

دا خونې د اټومي جګړې د خوندی کېدو له پاره جوړ شوي وو.

والریا هم د نورو کسانو سره د فابریکې خوندي (امن ځای) ته پنا واخیسته.

دا خوندی ځایونه د ځمکې لاندې وو.

شمېره یې دېرشو(۳۰) ته رسېده.

هغو ته زینې ورغلې وې.

ځینې زینې هم ورانې او ویجاړې شوې وې.

دالانونه او لارې هم تیارې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


والريا هم تر ټولو لاندې لاړه چېرې چې د مکعب په شان کانکرېټي خونې وې.

الته ځينو کسانو له ورايه لنډ مهاله (موقتي) نغري جوړ کړي وو.

ټول به سره راټولېدل، په شريکه به يې کتنغ کاوه او خواړه خوړل.

الته د خوب ځايونه نه وو.

نه کټونه وو او نه هم بسترې.

نه توشکې وې او نه هم بړستنې.

بالښتنه هم نه وو.

اوا(هوا) ښه وه.

هغوی به پر کاليو بيده کېدل.

خوراکی مواد، اوبه، ډوډۍ او دوايي به هم ورځ تر بلې لږېدل.

د خلکو انديښنې به هم ورځ تر بلې ډېرېدې.

ډار او وحشت هم ډېر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د یوې شپې ناوې**

**....................**



**د ځمکې لاندې خوندي ځای په آزوف سټیل کمپنۍ کې**

په جوړو شویو نغریو کې به هغوی، کتغ هم تاوداوه.

د اوړو په موندلو سره به یې هغه خوندی ځای ته راوړل او الته به یې اوړه د اوبو سره خیشتاوه او بیا به یې ترې کیک پخاوه.

هغو ته والریا د ډوډۍ نوم ایښی وه.

ټولو به په خوند سره خوړه.

هغوی په قحطۍ کې ژوند کاوه.

ورځ تر بلې سختېده او روسي قواوو خپل ځانونه الته نږدې کول.

هغوی به لکه موږکانو ژوند کاوه.

له یوه سوري به وتل او په بل کې به ننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د یوې شپې ناوې**

**....................**

له یوې خوا به بلې خوا ته په تیارو کې ګرځېدل او بیا به سره غونډېدل.

هغوی به په خپلو منځو کې، کېسې کوې.

والریا به کله نا کله هغوی ته شعرونه هم ویل.

د اپریل د میاشتې پر پنځه لسمه (۱۵) کال ۲۰۲۲ کې الته روسانو یوه ډېر غټ بم واچوه.

د دې بم په ولېدو (لګېدو) سره ټول کسان مړه شوو.

یواځې والریا ټپي شوې وه.

په دې وخت کې نورو کسانو د هغوی خوندي ځای ته منډې کړې.

مړی یې دېخوا اخوا کړل.

په مړو کې یې یواځې والریا و موندل شوه، چې ټپي شوې وه.

دا د والریا د پاره یوه غټه معجزه وه.

هېڅ چا سوچ نه کاوه چې د بم غورځېدو نه وروسته به، الته څوک ژوندي پاتې وي.

هغې مغزی ضربه لیدلې وه.

والریا الته د ځمکې لاندې روغتون کې د اتو (۸) ورځو د پاره بسترې شوې وه.

الته دوایي ډېره لږه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغې د هغو عسکرو په منځ کې اونۍ تېره کړه کوم چې د بدن غړي یې پرې شوي وو.

الته د وینو بویونه او د ټپیانو نالښتونه وو.

خو!

هغې بله لار نه درلوده.

مجبوره وه، الته د درملنې له پاره پاتې شي.

آندری سوبوتین به د هغې پوښتنې ته، ته.

هغه خورا خواشینی و.

نه میوه وه او نه ښه خواړه چې والریا ته یې وېسي.

ګلان هم نه وو چې د رسومو سره یې هغې ته ډالۍ کړي.

آندری سوبوتین له خوندی ځای نه و وت.

د فابریکې اخوا دېخوا وګرځېد.

یوه ګل یې وموند.

هغه یې وشکاوه.

پټ یې په جب کې کېښېښود.

بیا د ځمکې لاندې روغتون ته ننوت.

د والریا ځای ته لاړ.

هغه بیده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تر خوا یې کښېناست.

هغه لا هم بیده وه.

ګل یې د هغې مخې ته کښېښود.

ګړۍ ته یې و کتل.

بیا له ځایه پاڅېد.

دندې خوا روان شو.

دنده خورا سخته وه.

ورځ تر بلې سختېده.

روسې عسکر فابریکې ته وړاندې کېدل.

د کیف ځخه مرستو درک هم نه و.

بندو کسانو په لږو او خپلو امکاناتو، د ځانونو دفاع کوه.

روسي عسکر نور هم نږدې شوو.

آندری سوبوتین ډېر په تشویش کې و.

یوه شپه په خوب بیده وه.

وحشتناکه خوب یې ولید.

له ډاره پاڅېد.

اخوا دېخوا وګرځېد.

بیا بېرته خپل ځای ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په خپل ځای کې پرېوت.

په سوچونو کې بيده شو.

خوب يې وليد.

روسان مخ ته راغلي.

فابريکه محاصره شوې ده.

عسکر غواړي فابريکې انګړ ته ننوځي.

په دې وخت د مرميو باران شوو.

يوه مرمۍ پر والريا لړېږي او ځاي پر ځای کېږي.

هغه مري.

آندرى سوبوتين چيغه کوي.

هغه په خپلې چيغې سره له خوبه پاڅېږي.

بيا د والريا اتاق ته ځي.

هغه بيده يې.

شکر باسي او بېرته خپلې دندې خونې ته ځي.

هغه، سو چونه کوي.

په سوچونو، سوچونو،سبا کېږى.

هغه پلان ونيو تر ځو واده وکړى.

د واده مراسمو له پاره، حلقې (چلې يا ګوتې) حتمي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هټۍ (دوکانونه) او مغازې تړلې بندې او د روسي عسکرو تر ولکې لاندې وې.

هغه هر څه سوچ واهه چې حلقې و مومي.

دا کار تر سره نه شو.

بیا یې پر سوچونو پیل کړ.

له جبه یې سګرټو ډبی و ویست.

یوه سګرټ یې بل کړ.

بیا یې د سګرټو زرورق ته وکتل.

زرورق یې د باندې کړ.

بیا یې د هغه نه دوې حلقې جوړې کړې.

لږ وروسته یې د سګرټو یوه تش ډبی ومونده.

حلقې یې په کې کښېښودې.

والریا هم د روغتون نه رخصت شوې وه.

هغه دوې، درې ملګري یې سره راټول کړل.

بیا  هغوی د والریا ځای ته لاړل.

والریا ته یې غږ کړل.

هغه ودرېده.

بیا آندری سوبوتین د هغې مخ ته په ګونډو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاس يې جب ته ور وپست.

د سګرټو ډبې يې را و وپست.

د هغه سر يې خلاص کړ.

د زرورقو حلقې يې هغې ته نږدې کړې.

بيا يې هغې ته و ويل:

زما سره واده کوې.

هغې د زرورقو حلقې ته و کتل.

هغه پوی شوه چې نور امکانات، نه شته.

بيا په خندا شوه.

هغې و ويل:

هو!

هو!

بيا يې يوه حلقه د هغې په ګوتې کې کړه.

وروسته ودرېد.

والريا هم دوبېيمه حلقه د هغه په ګوتې کړه.

په دې وخت کې يې ملګرو هغوی ته مبارکي و ويله او لاسونه يې وپړکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د حلقو په ګوتو کولو انځور**

بیا آندری سوبوتین خپل غوږکی یوه کس ته ورکړ او هغه ته یې و ویل:

څو قطعې زمونږ انځورونه واخله!

هغه اندري ته نږدې شوو.

غوږکی یې د هغه د لاس څخه واخیست.

هغه پر انځور اخیستنې پیل کړ.

بیا څو قطعې انځورونه یې واخیستل او کس ته یې و ویل:

بس ده!

غوږکی دومره چارج نه لري.

بیا کس غوږی ببر ته اندری ته ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اندری هم د هغه نه مننه وکړه.



**د والریا او آندری سوبوتین یادګاري انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا د سوریو نه و وتل او څو ګډ انځورونه یې واخیستل.
هغوی ضروري اسناد سره ولیکل او بیا یې لاسلیک کړل.
د هغو نه یې تصویرونه واخیستل او د اندری کورنۍ، کیف ښار ته ولیږل تر څو یې په رسمي دفتر کې ثبت او رسمي کارونه یې مخ ته یوسي.
دا د مې د میاشتې پنځمه ورځ وه.



**د والریا او آندری سوبوتین یادګاري انځور**

د هغوی د واده مراسم په نظامي جامو او زرورقي حلقو کې تر سره شوو.

خو!

آندری والریا ته داډ ورکړ د جګړې پای کې به هغې ته ښکلي او مناسبه حلقې و پیرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغې هم د آندرى نه مننه وکړه.

د هغوى لنډ مراسم پاى ته ورسېدل.

شپه شوه.

شپه يې په خوشحالۍ سره تېره کړه.

سهار شو.

اندرى دندې خوا روان شو.

جګړه نږدې شوې وه.

هغه د فابريکې نه د باندې و وت.

ترڅو کرښې ته لاړ او ملګرو سره مرسته وکړي.

په دې وخت کې د مرميو باران شوو.

اندرى ولګيد.

ځاى پر ځاى يې ساه ورکړه.

هوا روښانه وه.

ملګري يې و نه توانېدل هغه مړى خوندى ځاى ته کړي.

په جګړو کې ماښام شو.

يوه کس د والريا ځنګ ته لاړ.

هغې ته يې سلام ورکړ.

والريا د هغه سلام ته وعليکم و ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هغه رنګ پک اوښتی و.

خبره یې په خوله کې وچه شوه.

رېقې، ریقې یې کتل.

بیا والریا و پوښتل:

خیریت دی؟

هغه و ویل:

نه شمه ویله.

بیا هغې وپوښتل:

و وایه!

هغه و ویل:

په تاسف سره اندري ومړ.

والریا د خبرې په اورېدو سره هکه پکه پاتې شوه.

ژړا یې په سترګو کې وچه شوه.

یوه سوړ اوسېلی یې وبا سه او هېڅ یې و نه ویل.

ټول غم یې زړه ته د ننه کړ.

بیا یې له ځانه سره و ویل:

لمړۍ ورځ ناوې وم.

بیا د آندری ښځه شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دوېيمه ورځ کونډه شوم.

بيا يې آه او سوړ اوسيلی و باسه.

هغې و ويل:

آه خدايه!

دا څه را پېښ شوو.

دومره ژر!

هرڅه له منځه، لاړل.

خپل سر يې و خوزاوه.

غوښتل يې کس ته څه و وايي، مګر خبره يې له ياده و وته.

کس هم د هغې نه لري او په خپلې مخې پسې لاړ.

څو ورځې تېرې شوې.

ښار ټول د روسان تر محاصرې لاندې راغی.

د ورځې به په سلګونه ملکي او نظامي کسان وژل کېدل.

الته ورځ لکه کال په شان وه.

وخت هيڅ نه تېرېده.

محاصره سخته شوه.

اتيا ورځې تېرې شوې.

نور د خوړو څه نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوايي هم خلاصه وه.

بند پاتې کسان مجبوره وو چې د خوندي ځايونو نه د باندې و وځي.

لمړي روسانو دستور ورکړ ترڅو ملکي کسان و وځي.

بيا يې نظاميان په بند(اسارت) ونيول.

خبرې داسې وې چې د روسانو برنته کسانو سره به تبادله شي.

په زرهاو اوکرايني عسکر د روسانو سره برنته شوو.

څه يې تبادله، مګر نور يې تر اوسه هم د هغوی په بند (اسارت) کې دي.



**د والرې انځور د بند نه وروسته**

(c) ketabton.com: The Digital Library


والریا هم  یوولس میاشتې در روسانو په بند کې وه.

د هغې سره څه باندې  نه سوه کسانو (۹۰۰) د آزوف تیپ کسان وو.

هغه د خپل بند ناخوالې او چلند په ګوتو کړل.

هغې وروسته د بند څخه یوه کتاب د بند (اسارت یا زندان) ژوند په هکله لیکی دی.

په کتاب کې د بند ناخوالي په ډاګه شوې دي.

هغه لیکي:

ما هرڅه له لاسه ورکړل.

خپل ښار، خپل ملګري او خپل میړه.

زمونږ په هېواد کې یوه متل دی چې وایی.

(۳)

**جنګ دې ورک شي**

**رنګ دې ورک شي**

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سر چینه

۱.ماریوپول

%٤A%٨D%٨٥%٩https://fa.wikipedia.org/wiki/%D
٨٤%٩BE%D%٩D%٨٨%٩C%D٨%DB%١B%٨D

۲. د ماریوپول ودانیو انځورونه د جګړې نه مخکې او وروسته

A%٨D%٨A%٨https://www.etemadonline.com/%D
-٤B%٨E%D
C-٨%DB%٨٦%٩AF%D%٨C%D٨%AF%DB%٨%D
-٥٤٤٨١٩/٥-٤A%٨D%٨٤%٩%D
C%D٨%DB%٨٨%٩D%٤A%٨D%٥B%٨AA%D%٨%D
-٨٤%٩D%٨A%٨D%٨٢%٩-%D١B%٨
-٢B%٨D%٤A%٨AF-%D%٨D%٩B%٨D%٨A%٨%D
-٨٤%٩D%٨٤%٩D%٨٥%٩AD%D%٨%D
-٨٤%٩C%D٨%DB%٣B%٨D%٨٨%٩D%١B%٨%D
-١B%٨D%٨٤%٩D%٤B%٨-%D٨٤%٩D%٨A%٨%D
D%٨٨%٩C%D٨%DB%١B%٨D%٤A%٨D%٨٥%٩%D
٨٤%٩BE%D%٩

۳. د والریا ځوکربشې کیسه

n٩z٦٨٤٩٨https://www.bbc.com/persian/topics/cnq
t

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د چاپ شويو کتابونو ليست

١. معماری افغانستان
٢. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
٣. راهنمود طلايې (برای اساتيد انستيتوت های تخنيکې و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد اول
٥. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
٧. معماری اصيل شهر کابل (مرادخانی)
٨. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
٩. افغانستان در قرن تکنالوژی
١٠. زونبندی اقليم و زلزله افغانستان
١١. صدقه جاريه / دنيای انجينری
١٢. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٣. داستان حقيقی با مقياس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاوير مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماری کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)
۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥۰. د وچو ښونه او پارکونو معماري
٥۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥۲. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اېنجینېرانو(انجینرانو) له پاره
٥۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)

(c) ketabton.com: The Digital Library


٥٩. سيدو او عيدو - د كوشنيوالي خوارٍه ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د يوې مياشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د يوه سړی لنډې کيسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برسټن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غريبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [ديارلس کلنه فلسطينی انجلی تر نړېدلي ودانی (پښتو بهرنی ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتي / چوب ادبی
٨١. د ښاروالی کاريګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عينک مسو کان ته څېرمه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٨٣. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)
٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانټينري ودانۍ
٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلي هوسۍ (پښتو کیسه)
٨٨. خړه بيزو(پښتو کیسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپين کارغه (پښتو داستان)
٩١. لېونۍ لېوه (پښتو داستان)
٩٢. بندي مرغه (پښتو داستان)
٩٣. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
٩٤. ملا نصرالدين سره د دوکې پايله (پښتو ناول)
٩٥. د يوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
٩٦. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري
٩٧. ناکامه مينه (پښتو ناول)
٩٨. سنګلاخ دره او معماري
٩٩. عشق در کانتینر ها (ناول به زبان دری)
١٠٠. مادل اندازه گیری اسلامی
١٠١. په ګاونډ هېواد کې زړه بايلل (پښتو ناول)
١٠٢. بازی ها وسپورت های محلی مردم افغانستان - جلد اول
١٠٣. منار های غزنی – گذشته و حال
١٠٤. توري چشمې (عينکې) پښتو ناول
١٠٥. د چک ولسوالی نه (٩) برجه کلا
١٠٦. د يوې شپې ناوې (بهرنی پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کار لاندې کتابونو لیست

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د وخت او امکان په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library
د یوې شپې ناوې

# One Night Bride

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: September -November / 2028

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**